# څه لیکل یا لیک پوهه

د

Ketabton.com

اروانښاد استاد ګل پاچا الفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| سر لیك: | مخ: |
| --- | --- |
| دعا | ۱ـ۲ |
| رحم وکړه | ۲ـ۳ |
| سودا کړه! | ۳ |
| خلک ویپژنئ! | ۴ـ۵ |
| دکوم ځای دی؟ | ۵ |
| کوم یو ښه دی؟ | ۶ |
| وښیه څوک دی؟ | ۶ |
| رشوت خوره! ته راپه یادشوې | ۷ |
| سیاست | ۷ |
| خلک څه وایې؟ | ۷ـ۸ |
| څوک وایې؟؟ | ۸ |
| څه وکړو؟؟ | ۹ـ۱۰ |
| ووېرېږئ اومه وېرېږئ! | ۱۰ـ۱۱ |

| سر لیك: | مخ: |
| --- | --- |
| استاذویل! | ۱۱ـ۱۳ |
| عجیب انسان | ۱۳ |
| خان لالا | ۱۳ـ۱۴ |
| رشوتونه | ۱۴ـ۱۵ |
| دمتملقینو منطق | ۱۵ |
| د ښځو دار | ۱۵ |
| مور په هرچاپسې نه ځو | ۱۵ |
| په خروکښې هم الفت شته | ۱۶ |
| درجب خان دعوتنامه | ۱۶ |
| نتیجه یعنې څه؟ | ۱۶ـ۱۷ |
| انسان یعنې څه | ۱۷ـ۱۸ |
| خوشحالي اوغم | ۱۸ـ۱۹ |
| آرزو | ۲۰ـ۲۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# دعا

دټول جهان واکداره! ته هر څه لرې او هرڅه کولی شې د هرچا امید تاته کیږي او هر څوک هرڅه له تاغواړي، ستا خزانې اوکار خانې ډکې دي، ستا په باغونوکښې دشودو، شرابو اوعسلو ویالې بهیږي.

ستابخششونه اوانعامونه بې پایانه دي، ستا د رحمت نور په ځمکو او اسمانو کښې نه ځائیږي.

فقیران اومسکینان درنه د ډوډۍ سوال کوي.

ماړه او بډایان درنه اشتها او د هضمولو قوت غواړي.

څوک درنه په زاریو او دعاګانو اولادونه غواړي څنې وایې چې ما ل او دولت راکړه!

یو وایې جنت مې په کار دی بل وایې له د وزخه امان اوپناه غواړم.

څوک د حورو شوقمن دی او د چا غلمانو ته نیم زړه نشته.

مرتبې او لوړې درجې له تاسره دي، کامیابي اوموفقیت ستاپه توفیق حاصلیږي.
دین او دنیا ستا په لاس کښې دي، راحت او زحمت، عزت او ذلت ستا له خواانسان ته رسي.
بهار او خزان ته راولې، مرګ او ژوند ستا په اختیار کښې دي.
هرڅه ته کوې او هرڅه له تاغوښتل کیږي.
ددې جهان او د هغه جهان اجرونه، خیرونه، خوندونه او خوشحالي خلکو ته ته ورکوې.
زه پوهیږم چې تاسره هرڅه شته.
مګر زه هر څه نه غواړم.
زما دعا او د زاهدانو دعا، زما ارزو او دپاد شاهانو ارزو یو راز نه ده.

زما سوا ل دبډایانو اومسکینانو له سوا ل ډیر فر ق لري.

زه نه وایم چې ځمکې او پیسې راکړه.

نه غواړم چې عزت مې ډیرلوړ او رتبه مې لوړه شي.

موټرونه اواسونه مې نه دي په کار.

قصرونه او عمارتونه نورو ته ورکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پتې او باغونه هغه چاته وبخښه چې په خاورو نه مړيږي.

په بانکونوکښې دسوداګرووپیسې زياتې کړه.

دبزرګۍ اعتبارمه راکوه! ځکه چې ستا په اطاعت اوعبادت له خلکو نه اجراو عزت غوښتل راته ښه نه ښکاره کيږي.

زه له دې ټولو نه تیریم او نور څه غواړم.

زه هغه څه غواړم چې ته يې هم غواړې او په طلب کښې يې يې.

هو! زه ستا له رضانه خلاف څه نه غواړم.

زه وايم په جهان کښې د ظلم بيرغ  نسکور کړه.

حق او عدالت ته قوت ورکړه!

په زړونوکښې رحم او د خير مينه واچوه!

په دماغونوکښې د حق نوراو د حقيقت رڼا پيداکړه!

ته کولی شې چې د ظلم قوت په وړو وړو کاڼو ميده ميده او ذرې ذرې کړې يا د هوا په مياشو ظالمان تباه کړې.

مګر موږ د اتوم په بمونو  هم داکار نشوکولی.

# رحم وکړه

دتورې کيږدۍ او د ډيرو رمو خاونده!
په دې سره او تکنده غرمه کښې.
په دې وچه بيديا اوسپيره صحراکښې چې يخې او به  يخ سيورئ، توده ډوډۍ، شـودې او مستې، کـوچ او پيروي،
کورت او غوړي، پوخې او پنيرونه هر څه له تاسره دي.
په خواړانو او بې وزلو رحم وکړه!
له مسافرو او لاروېو نه خپل خوړونکي سپي ايسار کړه!
هرڅوک چې راځي اوستا د کيږدۍ ترسيوري لاندې کيږي هغه له خپلو سپيونه  ساته او قدريې کوه!
ای د خوړو سپيو خاونده!
ستاد سپيو تاوان له تارسيږي او د دوئ  په ضرر باندې ته نيولی يې.
سپي او نفس دواړه يوشان دي او هرشي ته خوله اچوي.
ته خپل سپی ونيسه او په موږ رحم وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په خپلو سپیو دا ګمان مه کوه چې دوئ به هروخت ستا دښمنو او غلیمانو ته غاپي.
دوئ ډیر ځله داسمان ستورو اوسپوږمۍ ته هم غاپي او ستا په ملګرو او اشنایانو هم بلوسي اوغوټې وهي.
آه_ هیڅوک زما نارې نه اوري.
دخپلوسپیو حملې هم نه ویني.
دوئ ولې څه نه اوري؟
ولې څه نه ویني؟
ولې په چارحم نه کوي؟
پردي خوبه نه وي؟ کیږدی خو د پښتنو معلومیږي.

# سودا ګره!

هرڅه چې خرڅوې هغه خرڅ کړه مګر خپل دین او ایمان مه خرڅوه!
هرڅه چې خورې هغه وخوره!مګر سودمه خوره! اوینځه ګوتې په خوله مه منډه. هرڅه چې اخلې هغه واخله مګرد خوار وغریب ازار مه اخله!
له هر ځایه چې هر څه راوړې رایې وړه! مګر ګوره! چې بې انصافي او بیر حمي درسره رانوړې.
په اسونو او موټرو سوریږه! خو د چاپه اوروومه سپریږه!
له ښاره اوزه خوله نرخه اوله چتې مه اوزه !
لوی لوی کورونه د ځان لپاره جوړ کړه ! خو دخپل واوري دبل په بام مه غورځوه!
پتې ډیرپیداکړه مګر خپل پټې مه درنوه! او ځانته اغزي مه کړه.
دځان غم دې وخوړاوس د نوروغم هم وخوره!
لوړې بنګلې دې پیداکړې لوړ همت هم پیداکړه!
خلک وایي په ډیرولیونی خوښ دی ته هم په لږه ګټه قانع شه او لیونی کیږه مه !
بډایانو ویپژندلې مګر خوار اوغریب دې نه پیژني.
راشه! دوئ ته هم ځان وښیه ددوئ په غم کښې شرکت وکړه!
په دې شرکت کښې که هرڅومره سهمونه ولرې هغه هیڅکله نه ضایع کیږي او ګټه یې یوپه لسه بلکه بې حسابه ده مګر دا سود نا روا نه دی روادی، بې انصافي نه ده انصاف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلك وپیژنئ!

**هغه څوک چې دمملکت کارونه یې په لاس کښې دي او د واک و اختیار خاوندان بلل کیږي یا په وطن کښې تاثیر اونفوذ لري پوره وپیژنئ!**

**هغه کسان چې زموږ لپاره خدمت کوي یا زموږ په سرتجارت کوي باید وپیژنو او ښه یې وپیژنو.**

**پیژندل دانه دي چې فلانکی رئیس یا وزیر دی، هغه بل په ملک او وطن کښې ډیر عزت او اعتبار لري، ددې بل ما ل او دولت ډیر دی، یا په لوړو ځایوکښې په ښه نظرلیدل کیږي.**

**دا راز پیژندل زه نه وایم زما مقصد انسان شناسي او دسړو پیژندل دي نه د چوکیواو نومونو پیژندنه.**

**موږ باید ترهرڅه د مخه سړي وپیژنو او دامعرفت په صحیح ډول حاصل کړو.**

**ددې معرفت لپاره ډیرې پخې سترګې اوصایب نظرپه کار دی.**

**دانسان جو هر او ذاتي قیمت معلومول دجواهرو له پیژندلو یو په څوګران اومهم کاردی.**

**انسان په ډیرو پردو او ډیرو رنګونوکښې پټ دی او غیر له دغو جامونه ده نور کالي هم زښت ډیراغوستي دي او ډیر لباسي مخلوق دی.**

**دی په هرځای کښې بیله جلوه لري، دمنبر په سر یو راز اوپه خلوت کښې بل راز دی.**

**په بازارکښې انګورنه خوري په کورکښې بوتلونه په سراړوي او په دوایرو کښې د خلکو وینې څښي.**

**موږ باید دهر چامعنيٰ اوحقیقت ته وګورو او په لباسونو، نومونو، رنګونو و نه غولیږو، که تاسې زما منئ د چا قصرونو، منصبونو ته مه ګورئ بلکې کار، فکر، ارادې عمل او ارزوګانوته یې وګورئ!**

**تاسو باید په سړویسې وګرزئ! اوسړي ولټوئ!**

**هغه کسان چې دمملکت بهبود او سعادت غواړي او د اجتماعي درد احساس خاوندان دي هغه وپیژنئ او په محبت ورته وګورئ!**

**اوس هغه وخت تیرشو چې یوسړی به دمعاش او رتبې، عزت او اعتبار له مخې پیژندل کیده او بیا به د قوت او اقتدار له خوا ورته خلکووکتل.**

**دې عصر هغه باداران او اغاګان له اعتباره وغورځو ل او دوطن خدمتکارانو ته په قدر اواحترام ګوري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې وخت انسان په انسان کښې معنويت او فضليت لټوي.
په دې  وخت کښې هماغه سړی ښاغلی او منلی دی چې وطن او مملکت ته يې خير او نفع رسيږي. او س هغه وختونه لاړل چې خلکو به جاه و جلال يا د ريا او تذوير په طلسم کښې ځانونه پټ کړل او چا به يې کار او عمل ته نه کتل.
ددې زمانې ائينه بل راز ده اوعلاوه دلباس او جامو په صفايي او خيرنتوب، دانسان معنوي توروالی اوسپينوالی هم سرې ته ښيي.
تاسې ښه ځيرشئ! دغه لوی خلک او درتبو او مقامونو خاوندان ټول په رښتيا لوی نه دي، اونه ټول واړه  خلک حقيقتاً واړه او کوچني دي.
اوس موږ پوهيدلی شو چې په مشرانو کښې کشران اوپه کشرانو کښې مشرا ن شته.
له لرې اوله ورايه خلکو ته مه ګورئ او محض امريت اوماموريت په نظرکښې مه نيسئ! دوطن اومملکت صادق خدمتګاران له دروغجنو او مظاهره کوونکو نه بېل کړئ او خلک وپيژنئ!

# دکوم ځای دی؟

يوکوريې دلته دی بل په کابل کښې، بل په يو بل ځای کښې.
څه ځمکه په کوهدامان کښې لري، څه په بغلان کښې څه په يوبل ځای کښې.
نغدې روپۍ يې په رشوتو نو دلته پيداکړی مګر ګټه ورباندې نور بانکونه کوي په يوبل ځای کښې .
ته ووايه چې دا دکوم ځای دی؟
مينه يې له دې خلکو سره نشته او د نوروملکونو خلک ورته ډيرګران دي.
ددې وطن له شعر او موسيقۍ نه خوند نه اخلي او د خارجي موزيک په صفت مړيږي نه. موږ ته په نغوت او نفرت ګوري او ديرديو مستخدمينو په مقابل کښې ډيره تواضع کوي. ته ووايه چې دادکوم ځای دی؟
دی د هيڅ ځای نه دی ځکه چې هرځای دده دی اوسړی ورته هر ځائي، ويلی شي.
هو! دا هغه مرغان دي چې څلور فصلونه په څلور ممکلتونو کښې تيروې او وطن نه لري، وطن نه پيژني، ديوه وطن په هواکښې نه الوزي او دوطن سړې او تو دې نشي تيرولی. دا هغه عياشان دي چې بې له عيش او راحت نه نورڅه نه پيژني او له وطن سره هيڅ مينه او علاقه نه لري.
موږ  هغه کسان ددې وطن بللی شو چې دوطن په کاڼو او بوټو سر ورکوي او په سختو ورځو کښې دوطن په کاريږي که څه هم پوله او پټی نه لري او په زړوکو ډلو او جونګړوکښې اوسي.
هو! زما په عقيده دا وطن د هغه چا نه دی چې د ډيرو ځمکوقبالې يې اخستي دي بلکه د هغه چا دی چې د وطن مينه يې په زړه کښې ده او له وطن سره علاقه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# كوم يو ښه دى؟

يو دى چې په خبرو ډېرښه پوهيږي د هر مطلب لپاره ډېرښه پيرايه او ښه دلايل پيدا كولى شي، د خپل منطق په زور هرڅوک تيرباسى او له ډېره عقله ويښته چيځ.
ساحر نه دى مګر يوشى په بل راز ښودلى شي او د خلكو په اذهانو او نظرونو هر راز لوبې كوي.
عملاً هيڅ نه كوي مګر په خوله هر څه كوي او هركار ځانته منسوبوي.
بل هغه دى چې ډېرې خبرې او مبالغې نشي كولى، د ځان ښودلو او ځان ستايلو اقتدار نه لري په هره خبره كښې لكه د شړومبو مچ نه لويږي، دهرچا توجه ځانته نشي جلبولى په مجلسونو كښې په وچ زور ځانته دخبرو موقع نه پيداكوي اوپه پټه خوله كار كوي په دماغ كښې يې ښه ښه فكرونه او په زړه كښې يې د وطن اوقام مينه ډېره ده مګر په خوله څه نه وايى او خپل صفتونه نشي كولى.
ته ووايه! چې كوم يوښه دى؟
زه خو وايم چې دى ښه دى مګر د هغه قدركيږي او دده نه كيږي.
هغه پيژنو اودانه، د هغه ساحرانه كلمات راباندې اثركوي او دده صفايې او معنوي فضليت رانه پټ دى.
هو! مونږ په خبرو غوليږو او حقايق نشوليدلى.
موږ بايد دانقيصه رفع كړو او خپل احساس او ادراک علاج وكړو.
موږ په غوږو اورو او په سترګو څه نه وينو ځكه كارونه خراب او خبرې ښې دي.

# ونبيه څوک دى؟

اصلي نوم يې نشم اخستلى مګر رسمي نوم يې مامور صاحب دى.
په كارنه پوهيږي مګر په خوشامدو او چاپلوسۍ ډېرښه پوهيږي.
دلويو او معتبرينو په مخ كښې د حاضر باش او خانه سامان كار كوي مګر د خورانو او غريبانو سلا م هم نه اخلي.
سواد نه لري، مكتب يې نه دى لوستى، مدرسه يې نه ده ليدلى، اخبار اوكتاب نشي لوستلى مګر ماموريت كولى او ساتلى شي.
په درباري اوضاعو كښې دټولو استاذ دى مګر انسانيت اوسړيتوب يې هيڅ نه ده زده، مكتوب نشي لوستلى مګر شطرنج كولى شي.
لياقت نه لري مګر ډوډۍ لري.
دخداى طاعت ته يې ملاماته ده مګر دامرانو په اطاعت كښې اول نمبراخلي.
دنيا يې ډېره ده مګر همت يې كم دى.
تنخوايې لږه ده او جايداد يې ډېر دى.
مسافر او فقير ته يوه سوې مرۍ نه وركوي مګر مېلمنوته هره شپه چرګان حلالوي.
غل نه دى مګر له غلوسره نيمه برخه لري. ساحر نه دى مګر په يو څوخبرولوى لوى خلک ړانده او كاڼه كړي.
ونبيه! څوک دى؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رشوت خوره! ته راپه یادشوې

چاوويل: ټنديري مګر مړيږي نه، ماته سمد لاسه ته راپه ياد شوې.
بل وويل: ګېډه خوپې مړه ده مګر سترګې يې وږي دي، بيا ته راپه ياد شوې.
يوه وويل: قصاب نه دی مګر ډيرخلک يې بې تيغه حلال کړي دي، دلته هم ته راپه يادشوې.
هغه بل وويل: منګولې او پنجې يې دليوانو نه دي او خونخواردی د ا ځل هم ته راپه ياد شوې.
بې ګناه خلک مې په زندان کښې وليدل، ته راپه ياد شوې.
هغه ورځ چا پوښتنه وکړه چې په غلو زهير، دمجرمينو طرفدار، دمظلومانو دښمن، د ناحقې ملګری، د قاتلانو حامې خوک دی؟
ماته ته راپه ياد شوې.

# سیاست

وايه يوځه کوه بل څه.
له بل نه پوښتنه کوه! پخپله هيڅ مه وايه!
په شپه کښې د لمر وړانګې ښيه! په ورځ کښې دتورتم ښيې.
که خبروې ځان نا خبره کړه! که خبرنه وې د با خبرۍ مظاهره کوه!
شکره لکه مرچ خوره. مرچ لکه شکره.

# خلك څه وايي؟

يو وايې په دوايروکښې بې پيسو د چاکارنه کيږي، بل وايي دخان اوملک رسوخ او اعتبار ورځ په ورځ زياتيږي او ضعيفانوته پنجې تيرې کيږي.
څوک وايي دلته نوی نهضت او فعاليت نشته، ځينې وايي صحيح اشخاص او دفکر خاوندان نشته.
شاعر وايي: نشاط او طراوت، ذوق او سرور، احساسات او جذبات نشته.
ملا وايي: دجلال آباد په نوي ښارکښې مسجد او د اذان غږ نشته.
رجب خان وايي: د جلال آباد نوی ښار جوړنشو او زوړ ښارپه لوی لاس وران شو.
دنوي ښار نقشه لکه دسيدجما ل الدين قبر، ياد قرغې بند هيڅ نه جوړيږي او هيڅوک نشي پوهيدلی چې دښار مخه کومې خواته ده او څنګه يا کله جوړيږي.
حميدوايي:

چـې دي نکړيـه نيکيـو ننـګ ونـام لـوړ پـه دوه چومـه دې د خټومشـه بـام لـوړ

بل ځای وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ریــا پــه حــق پرســتو پــورې خانــدي　پــه هــردم دبــرهمن بــت پرســتي

یونس وايي:
بنــدګي چــې د ریــا کــوي یونســه!　دهغــه ږیــره خیشــته ده نــايي غــواړي

سه لباس کـې څـه دخدای بندګي نشـي؟　چـې جامـه دې د ریـا واغـو سـته برګـه

علیخان وايي:
ژوبــل زړه بــه دې روغ نکــړي علیخانــه!　پســې مــه ځــه جراحــان دي طبیــب نشــته

دبغــل پــه کتــاب څــه شــیعلم بویــه　هرصــحاف پــه ملایــانو حســاب نــه دی

پیرمحمد وايي:
داد فریــاد مــې ترفلکــه نــه رســیږي　دیتنــګ پــه دود وریتبــړم خمــوش ځکــه

شیدا وايي:
چــې لیــده یکــې اثــر د الــم نشــي　څــه حاصــل لکــه شــبنم لــه چشــم تــره

# خولـــك وايـــي؟؟

خوک وايي چې کوږ بار ترمزله نه رسیږي او د دروغو مز ل لنډ دی.
د دروغو مزل خو تراخرته پورې دی اوکاږه  بارونه ترهماغه وخته مزله ته رسیږي.
خوک وايي چې بد ګرزي بد پرزي.
که دا خبره رښتیا وای اوس خو به یوسړی روغ نه و پاته.
خوک وايي چې د دروغجن مخ توردی. ماخو ډیر دروغجن ولیدل چې مخونه یې تک سپین دي.
خوک وايي چې دشیطانانو دې کور وران شي.
خوک وايي چې دغله په غره کښې ځای نشته.
رادې شي ودې ګوري چې ښارونه بازارونه ترې نه دي ډک؟
خوک وايي چې غل نه یې له پاچا مه ډاریږه!
ایا دناحقې له شاهدانو نه ویره نه ده په کار؟
خوک وايي چې په تشو خبروکار نه کیږي؟ دلته خو په خبرو هرڅه کیږي او بې خبرو هیڅ نه کیږي.
خوک وايي چې د غله په ږیره خلي وي ډیر غله شته چې بیخي ږیره نه لري.
خوك وايي چې ډیر وايي لږ ترې خیږي، ما خو ولیدل چې هیڅ ترې نه خیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه وکړو؟؟

موږ ډیر کارونه لرو او زموږ وظایف ډیر سنګین دي.
هرڅه چې کوو هیڅ نه کیږي او هیڅ نشوکولی.
داولې؟
داځکه چې: کار په سړیوکیږي او موږ ډیر دکار سړي نه لرو.
څوک چې لږ غوندې سم اوصحیح کارکولی شي خلک یې نه خوښوي او ناکامه کوي یې.
هغه چې د خلکو خوښ وي هغه بې دخلکو له مراعاتونو نورهیڅ نه کوي او دخلکو د خوشحالۍ د پاره هر څه کوي.
دڅنګه خلکو مراعات او خوشحالي؟
دهغو خلکو چې پخپل خیروشرهیڅ نه پوهیږي.
ژرنده او حمایت نه پیژني.
لکه ګډې او اوزې په قصاب او شپون پسې یو راز منډې وهي.
دوه ملکان یې یو د بل سیوری په ډانګو نو وهي.
ددوه خانانو خوسي یې یو ځای نه څري.
ددوه پیرانو مریدان یې یوله بل سره د خدای لپاره دښمنې کوي.
دوه ملایان یې یو په بل پسې مونځ نه کوي.
دوه تربرونه یو په بل پسې نه ځي.
اجتماعي شعور او احساس په کښې نشته.
له حق اوحقیقت، انصاف او عدالت سره مینه نه لري.
نبه نو موږ څه وکړو؟
موربايد يو څو تنه د کارسړي پیداکړو.
چې هم کاروکړي، هم په کار پوه وي، هم دکار کولو صحیح طریقه ورمعلومه وي.
ځینې کسان وایي په یوڅو ګلانو نه پسرلی کیږي، په یو ه مملکت کښې څوتنه هیڅ نشي کولی، څوتنه به کوم ځا ی ته ورسیږي، ترڅوتو ل نبه نه شي کارونه نه نبه کیږي.
په دغسې خبرو ساده ګان ډیر ژرغولیږي او هغه کسان چې انسان ته یوازې د جسمانیت له خوانه ګوري بلکې تدبیر، فکر او د ادراک قوت ته ګوري هغه پوهیږي چې یو سم او صحیح انسان د یوې سمې او صحیح نقشې او صحیح پروګرام په طرح کولویه دنیاکښې لوی لوی کارونه کوي او ډیر خلک په سمه لاره د عالي مقصد په لورې روانولی او بیولی شي.
ددغه شان څو تنو سړو له لاسه ډیر ډیر کارونه کیږي او دغسې اشخاص هرځای ته رسیدلی شي.
په دغسې یو ګل باندې سل پسرلیه جوړیږي مګر په څو پسرلیوکښې موږ دغه شان څوګلونه نشو پیداکولی ځکه چې نه یې شو پیژندلی.
زه دا نه وایم چې نشته یاپه دې خاوروکښې استعداد محوه شوی دی ، بلکې وایم چې باید په دغسې سړو پسې وګرزو او د وطن غرونه، کلي او کورو نه وریسې ولټوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور نه یو خبرچې زمور په غرونوکښې څه راز ګنجونه ترخاورو لاندې پټ پراته دي؟ په دې و چه او سپیه بیدیا کښې کوم ځای دحیات اوبه ترځمکې لاندې غلې شویدي؟ په دغو خوارو او زړو جاموکښې څه راز انسانان پیداکیږي؟
په دغو خلکوکښې چه زمور نظر اوتوجه نه جلبوي څه فکرونه او څه ارزوګانې موجو دې دي. که مور په دې پوه شوچې:

دیوسف خیرو جاموکښې څه ګناده    نبه لباس کښې چې ګناه کړي زلیخاده

راځئ، خیرې کړو داسې جامې رګینې    یکې وګورو خیرې ډیرې ننګینې

نو هله به داشخاصو حقیقت او ماهیت ته ورسیږو او زمور انتخاب به دلباس او څو خوړو خبرو له مخې نه وي بلکې دمعنی او حقیقي هویت له حیثه به وي.
مور باید هرچاته په ځیر ځیر وګورو او په خلکوکښې سترګې وغړو.
سترګې غړول یاکتل دانه دي لکه چې اوس هم ځینې دجاه وجلال خاوندان نورو ته په حقارت ګوري.
ډیر خلك شته چه د چا تر ړیرې لاندې یې کلونه تیر کړي مګر لیدلی یې ندی.
ډیرخلک وایي او زه هم وایم چې دکارسړی نشته ځکه کارو نه خراب دي.
داخبره له لویونه نیولی، تروړوپورې هریوکوي مګر سوا ل دادی چې چیرته؟ او په کوم ځای کښې؟ په یوه کورنۍ او یو ښارکښې نشته؟ که په وطن او هیوادکښې. که چیرې دکلي او کورخبره وي نوکله کله خو په یوه کاله کښې د څښلو اوبه هم نه وي مګر په بل ځای کښې سیند بهیږي او په ځینو کورونو کښې ویالې روانې وي.
که په وطن و مملکت کښې یې لټوو نو په ګوشته کښې هم ځوانان شته او لعل پوره خو په میږو پوره ده.

# وویریږئ اومه ویریږئ!

که په زړه کښې فساد او خیانت نه لرئ! که صحیح نیت اوښې ارزوګانې درسره وي، که د حق او حقیقت په قوت عقیده لرئ.

له حق وبلو او حقیقت ښکاره کولو مه ویریږئ او په حقانې جرئت نا حقه ظلمونه او داو هامو بوتان مات کړئ!

په هرځای او هر چاکښې چې خیانتونه او فسادونه، ظلمونه اوبد کارونه، ریا او تزویر، بې کفایتي او نالایقي وینئ ورسره جهاد وکړئ او په هر مورد کښې خپل صحیح او انتقادي نظریات ښکاره کړئ!

له هیچا مه ویریږئ او هیڅکله سترګې مه پټوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د خپل شخصي اونفسي اغراضو لپاره کار کوئ!

که د وطن اومملکت په نامه خلک غولوئ!

که په زړه کښې ټکي او برګي لرئ!

نو ددې عصر له بصيرت نه وويرېږئ اوپوه شئ چې کاږه بارونه ترمزله نه رسيږي او بې اساسه عمارتونه ډير ژرنړيږي.

که يو آمر په تاسې باندې سترګې سرې کړي او له قانون اوعدالت نه خلاف امرونه کوي، که يو خان اوملک په خپل زور او قوت تاسې نه بيځايه لحاظونه او مراعاتانونه غواړي که څوک لوړو مقاماتو ته لاره لري او په تاسې د سفارش خطونه راوړي مه ويرېږئ او په حق ټينګ ودرېږئ.

که تاسې خيانت ته اقدام کوئ يا دنفس دشيطان لپاره حق باطلوئ که هر څومره موافقتونه درسره وي او قوي لاسونه درسره شريک وي، که ټول عمرمويوه اوبل ته تملقونه کړی وي نو د سبا ورځې له باز خواست نه وويرېږئ!

هو! د مظلومانو او بې وزلو له فرياد نه وويرېږئ!

هغه کسان چې تاسې خپلو معايبوته ملتفت کوي اوستاسې نقايص درښيي له هغوئ نه مه ويرېږئ! مګرله هغو متملقينو نه وډارشئ چې ستاسې خيانت ستايي اوستاسې په سترګو پردې غوړوي.

چاچې په مملکتي دوايرو کښې لکه دشرکتو امران يوازې په پيسو کومه رتبه پيداکړيده يا يې په خوشامدو او تملقو نو ځان يوه حدته رسولی وي او وظيفه نه پيژني بلکې اشخاص او درباريان پيژني، هغه بايدله خپل آينده سر نوشت څخه وويريږي.

هغه کسان چې خدای پيژني او له وطن او ملت سره علاقمند وي دمملکت له تخت وتاج او له خپل اولوالامر او پادشاه سره رښتيانی مينه او علاقه لري د حق او عدالت له مقتضا سره سم د خدای دپاره کارکوي نو:

(لاخوف عليهم ولا هم يحزنون).

# استاذويل!

استاذ مور ته درس راکاوه او مور يې ډيرښه پوه کولو.

دده په تعليمونو، اجتماعي شعور او احساس ډير قوي کيده او په مغزو کښې بيداري پيداکيدله ده مور ته د حساب او محاسبې اصول هم ښودل او ويل يې تاسو بايد هر وخت له ځانه سره حساب وکړئ او حسابي خلک اوسئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ورځ بې د حساب په درس کښې موږ ته ويل:

که يو عدد له بل عدد سره داسې يو ځای کړو چې يو پاس او بل لاندې وي لکه ۲ نو ځلور( ٤ ) ترينه جوړيږي او ديوه وجود په بل کښې محوه کيږي او استقلال يې ورکيږي.

مګر که دواړه خنګ په خنګ يو ځای کړو لکه (۲۲) نو دوه ويشت ورځنې جوړيږي او دوه شل کيږي د دواړو عددونو شکلونه اوصورتونه هم په خپل حا ل پاته کيږي.

ځکه چې په دې صورت کښې دملګرتيا، اتفاق او وروروليـ راز پټ دی او په هغه بل صورت کښې تفوق تسلط او محوه کول مضمر دی.

ده ويل که داتفاق او ملګرتيا په صورت يوتن په ځان پسې بل روان کړی شي نوقدر او مقدار يې ډير زياتيږي او مرتبه يې لوړيږي.

(يعنی له احادو نه عشراتو، ماتو او الوفو..... ته خبره رسيږي). که يو د بل په اوږو سپريږياو بل د بل په اوږو نـو کـه ينځه تنه وي يعني ينځه الفونه يود بل په سر د پاسه کيږدو هماغه ينځه ورځنې جوړيږي اوشکل وصورت يې هم محوه کيږي

زموږ استاذ موږ ته په حساب او رياضي کښې هم داجتماعياتو او سياسياتو دفلسفې درسونه راکول او مونږ يې پوه کولو چې بايد يـو لـه بل سره داسې يـو ځـای شـو چې دتنازع.....په ميدان کښې خنګ په خنګ ودريږو او ځـوک د چاپه سربانديې پښې کښيږدي، يو د بل استقلال سلب نه کړي دلاندې کولو او محوه کولو غرض په کښې نه وي بلکې يـو د بل درجه او مرتبه لوړه کړي.

ده ويل: موږ به يو مخکې کوو او مشرکوو به يې مګريو د بل په سر نه سوريږو او د بل دټيټولو چم به نه کوو.

زموږ استاد دا هم ويل:

که مونږ دوه مساوي عدونه لکه( ۱-۱ ) ( ۲_ ۲ ) (۳ _۳) هريو له بل نه وړاندې وروسته کړو نتيجه يې يوه ده مګر په دوه متفاوتو عدونوکښې تقديم و تا خير ډير فاحش فرق راولي اوپه مقدار کښې ډير تفاوت راځي.

که موږ يو او نه يوځای کوو او داسې يې ليکو ( ۱۹) نولس کيږي مګرشل کيږي نه که هم دغه دوه عددونه داسې وليکل شي( ۹۱ )خبره سلوته نږدې کيږي او ډير زيادت په کښې راځي.

همدغه سبب دی چې په يو هو جوامعوکښې هغه ځوک دمخه کيږي چې قدر او مقدارېيې له هغه بل نه زيات وي او دده په مخکې توب باندې دجامعې قدر او قيمت ډير لوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ باید په دې سرپوه شو او د هر چا استعداد، معیار، مبلغ او مقدارته وګورو.

# عجیب انسان

ړوند نه دی مګر خپل عیبونه نه ویني.

کوڼ نه دی مګر خپله اوري اود بل نه.

زړه لري زړه سوی نه لري.

خپله لږه پوهه ورته ډیره ښکاري د بل ډیرعلم ورته لږ معلومیږي.

دبل لږ ما ل ډیر په نظرورځي او خپل ډیر مالونه ورته لږ ښکاره کیږي.

ددې لپاره چې خلک ورته لاس په نامه ودریږي، خلکوته لاس په نامه دریږي.

دفرعونیت لپاره غلامي قبلوي او د عزت لپاره ذلت ته غاړه ږدي.

دین په دنیا خرخوي اودنیا په پوچو اعتباراتو پلوري.

لکۍ نه لري او خلک ورته بې لکۍ نه وایي.

څلورپښې  نه لري او په څلورو روان دی.

آس نه دی مګرخلک په لغتو و هي.

ښکرنه لري مګر سرتمبه دی.

له عقله پیاده وی مګر هیڅکله پلی نه ګرزي اوپه موټرکښې هم د خپل جهل په خره سپور وي.

ته به وایې : دا څوک دی؟ زه وایم: بې پوهې زورور.

# خان لالا

خا ن لالا هیڅکله بې نوکرو او سړیو نه ګرزي.
دی هیڅا یوازې نه دی لیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپل صفت هر څوک خوشحاليږي مګردی بې له خپلو اوصافو بله خبره نشي اوريدلی.
که بل څوک دده صفتو نه بيان نکړي دی پخپله خپل صفت په ښه شان کولی شي اولکه سپايي پخپله ځان ستايي.
خان لا ل بخششونه هم کوي او په کا ل کښې په زرهاوو روپۍ نقداو جنس يوه او بل ته ورکوي مګر خوار اوغريب ته سوی مړی هم نه ورکوي.
حاکم او علاقه دار، مدير او مامور، خان او ملک ته سل قسمه طعامو نه تياروي مګر مسافر، کونډې او يتيم ته يوسکړک هم نشي ورکولی.
که تاسې خان لالا خوشحالوئ نو قلم او کاغذ راواخلئ او دده بخششونه حساب کړئ يايې خرڅ يو په لسه زيات وښيئ مثلا دده په مخکې ووايئ چې د خان په کورکښې يو کورکمند د کا ل څلويښت منه لګيږي او دغوړيو خويې هيڅ حساب نشه.
خان لا لا نور صفتونه هيڅ نه پيژني، پام کوئ چې د فضل و لياقت خبرې دده په مخکې ونه کړئ، او داجتماعي خدماتو يا اخلاقي فضايلو نوم په خوله وانخلئ، تاسې به دخانانو په خوی اوبوی بلدنه ياست مګر ماله رجب خان سره ډير صحبتونه کړي او دوئ ډيرښه پيژنم.
ماځينې داسې خانان هم ليدلي دي چې له خوارې ژرنده ساتي او له کبره مزنه اخلي.

# رشوتونه

رسمي رشوت: هغه رشوت چې حاکمان، ماموران، قاضيان او منصبداران يې اخلي.

غير رسمي: هغه چې خان، ملک، ناظر او نوروته ورکول کيږي.

معنوي رشوت : تملق مخامخ صفتونه دعا ګانې او داسې نور.

دپاک نفسو رشوت: دايکه، دحقوقو پيسې، خدمتونه، مېلمستيا.

د ظالمانو رشوت: هغه رشوت چې حق باطلوي او باطل حق کوي.

دهوښيارانو رشوت: چې کار له حق او اصولو سره سم وکړي او رشوت په کښې واخلي.

افراطي رشوت: چې دبانکونو داسهامو اخستلو لپاره وي.

غير افراطي: چې د نس مړولو اوتن پټولو لپاره وي.

د ريا کارانو رشوت: لړشی ردول او په مجلسونو کښې يادول او په ډيرو باندې غلی کيدل.

دفاسقانو رشوت : پيمخې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**داحمقانو رشوت: د رشوت په طمع او امید له حق اوقانون نه تیریدل.**

**دمحططاطو رشوت : د یوه اوبل لحاظونه او مراعاتونه.**

# دمتملقینو منطق

**یوه پاچا له چانه پوښتنه وکړه چې زما په ورغوو باندې ولې ویښته نشته.**
**هغه وویل ځکه چې پا چا پخپلو لاسونو باندې په لپولپو روپۍ خلکوته ورکوي او ورغوي يې سولیږي.**
**پاچا وویل چې دنورو خلکوورغوي خو هم ماغوندې دي.**
**هغه وویل: هغوئ هم پخپلو لپو ستاله لپو څه اخلي او ورغوي يې سولیږي.**
**پاچا بیاوویل: هغه چې زه هیڅ نه ورکو م د هغوئ ورغوي هم دغه شان دي.**
**هغه په جواب کښې وویل: هغوئ چې ستا پخششونه د نوروپه حق کښېویني نوله ډیر حسرت او ارمانه خپل ورغوي سولوي او افسوسونه کوي.**

# د بنځو ډار

**یوه وویل: زه له خپلې ښځې دومره وریږم چې هر څه وایي هغه کوم.**
**بل وویل: زه بې له ویلو هم د هغې په رضا کارکوم.**
**دریم غږکړ چې زه هیڅکله بې له څه تحفې اوسوغاته کورته نشم تللی.**
**څلورم وویل: ماله ډاره بیخي ښځه نه ده کړې.**

# موږ په هرچاپسې نه ځو

**یوملګری په لاره کښې مخکې شو.**
**بل ورته وویل: موږ پښتانه یو په چاپسې نه ځو او څوک نه پریږدو چې له موږ نه دمخه شي.**
**هغه وویل: رښتیا چې تاسې تل په خروپسې ځې او خره مو په مخکې وي یا د اسونو په مخکې منډې وهئ او په سړو پسې هیڅکله نه ځئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په خروکښي هم الفت شته

له یوه لیکونکي سره چې تخلص یې الفت و څوتنه ملګري ولاړو.
څو تنه خره په لاره تیریدل چې وربوزونه یې یوله بله نږدې کړي و او ښتونه یې ګرول.
یو ه غړکړ چې په خروکښي هم الفت شته.
الفت سمد لاسه وویل:
هو! لکه زه چې په تاسې کښې یم.

# د رجب خان دعوتنامه

ښاغلی.......... !
له ډیرې مودې مې دا سودا و ه چې یوه شپه تاسې میلمانه کړم مګر جرئت مې نشو کولی ځکه چې اوړه ډیر ګران دي.
نن سهار ستاسې طالع بیدارې وې چې دحاتم طایي کتاب لاس ته راغی او تر تاثیر لاندې راغلم. په همدغه وخت کښې
دامشهوربیت هم راپه یادشو:

مهمان روزي بخود میاورد پس ګناه میزبان رامی برد

نومې له ځان سره فیصله وکړه چې دګل کرم وخت هم دی او دپنج کتاب ملاصاحب هم ویلي دي:

کرم مایهٔ شاد مانی بود کرم حاصل زنده ګانی بود

نو راشه! په یوه دانه ګل کرم به جناب قاضي صاحب او دوه نورملګري خوشحاله کړې او ضمناً به دخپل جود او سخا
یوه دوه ناحقې شاهدان هم دقاضي په مخکې تیرکړې. نو ای ګرانو ورونو ګرانو ملګرو!
( توکل په خدای ) بیګاته زما ځای ته راشئ!
مګرګوري! خدای پاک فرمایلي دي: ( کلواو اشربو ا ولا تسرفوا).
نوتاسې هم بې امري مه کوئ! ځکه چې دهوښیارانو متل دی : ( نیم نان راحت جان ).
بله دا چې: طمع رانباید که چندان کنی که صاحب کرم راپیشمان کنی
( لاهور رجب)

# نتیجه یعني څه؟

رجب خا ن: داماموړین او میرزایان چې نتیجه نتیجه وایي ددې څه معنی اونتیجه څه شي ته وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجب خان: لکه له شودو نه چې څوک پیروی ټول کړي ياله مستو نه کوچ وباسي نتيجه هم دغه شان شی دی. کوم مامور چې ديوې فقرې تحقيق اوتفتيش ته مقرر شي او له خلکو سره دومره سوا ل او جواب وکړي چې مقصد اومدعا ورکه شي نو بياچې له هغو پانو نه مطلب راباسي نتيجه ورته وايي:

رجب خان: ښه دې پوه کړم، هغه ورځ چې زمونږ کلي کښې مړی شوی و او حاکم صاحب له ميرزايانو سره راغی قاتلان خو تښتيدلي و مکر دوئ دا نور خلك له سوا ل و جواب لاندې ونيول او يو سوا ل به يې څوخو ځله کاوه. زه حيران يم چې ولې دوئ يوه خبره دومره شاربې اوخلک په توراو سپين اړوي اوس پوه شم چې دوئ کوچ ورځنې ايستل او پيسې يې پکې اخستلي نوهرکله چې نتيجه اوپيسې لاس ته ورغلې بيا څوک په مړي پسې ونه ګرزيدل اونه يې چاپوښتنه وکړه.

ښه دميرزايانو په نتيجه خو دې پوه کړم اوس يو څونورې نتيجې هم راوښيه.

عجب خان: نتيجه په هر ځای کښې فرق کوي څکه وايم چې زمونږ په ملک کښې:

دعلم نتيجه: امامتي کول او خيراتونه خوړل.

دماموريت نتيجه : رشوتونه اخستل.

دما ل او ثروت نتيجه: سودکول.

دهوښياری نتيجه: چل اوفريب.

دناپوهی نتيجه: شرارتونه او فسادونه.

دنادارای نتيجه: غلا او ناحقه دعوی.

د قوت نتيجه: ظلم او تعدي.

دپاکنفسی نتيجه: فقر او قرضداري.

دچالاکی نتيجه: معتبري.

د چاپلوسی نتيجه : دآمرينو خوشحالي.

# انسان يعني څه

ر جب خا ن خوبه تاسې پيژنئ چې وظيفې يې نه دي خوړلي مګرملا شوی دی، د ادبياتو په فاکولته کښې يې څه نه دي لوستي خومقالې ليکلي اوشعرونه ويلی شي.

داستدلال قوت يې هم بدنه دی اوپه فيلولو جی کښې لاس څه چې ښې هم لري، څنکه چې د ده خبرې عجيبې غريبې دي هغسې يې دلايل هم دي.

هغه ورځ چا ورنه پوښتنه وکړه چې انسان يعني څه ؟

ده وويل:

منطقيان ورته حيوان ناطق وايي يعنې هغه حيوان چې خبرې کوي.

شاعران وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــــه نـــــاطق حيــــوان تعريـــــف چــــې دانســــــان کـــــړي

پـــــــــــــه خبـــــــــــــرو غوليــــــــــــــدلي هلکـــــــــــــان دي

ســـــــړی نـــــــه دی چـــــې يــــې کــــــار دســــــړونه وي

پـــــــه خبـــــــرو کــــــــه هـــــــر څـــــــومره بنـــــــه پـــــــوهيږي

ډاروين وايي: انسان دبيزو زوی يا لمسی دی.
مګر زه بې له خان صاحبه بل چا ته انسان نشم ويلی ځکه چې پاک خدای انسان ته ظلوم او جهو ل ويلی دی اوله خان نه زيات ظالم او جاهل نه پيداکيږي.
رجب خان د لغوي تحقيق په وخت کښې کله چې پښتو يا فارسي لغتونه عربي ته راکاږي نو خان اوخاين له يـوې مادې نه مشتق بولي، مګرکوم وخت چې عربې لغتونه پښتوکوي نو بيا وايي چې (انس) يا انسان له (نس) نه ماخوذ دی نـو د هر چا چې نس لوی وي او په پرديو مالونو هم نه مړيږي هغه خان او حضرت انسان دی.

# خوشحالي اوغم

له خوبه راپا څيدم، سترګې مې ومښلې، د ډو ل او سرنې اوازمې ترغوږه شو.

يوه شيبه وروسته سره ډولی او لويه ورا رابنکاره شوه چې ډير خلک ورسره خوشحاله روان و.

زه هم له دوی سره ملګری شوم او په دغه خوشحالۍ کښې مې ځان شريک کړ.

ماغوندې نور هم ډير خلک له دې ډولۍ سره روان و اوپه پردي واده کښې يې لاسونه غورځو ل. څـوک چې ددنيا په خوشحاليوکښې مطالعه لري هغه به ماته هيڅ تعجب ونه کړي.

که موږ د دنيا لويه وراوګورو نو د خو شحالۍ ناوې ديوه کورته ورځي مګر وچولۍ دډيرو غوريدلی وي.

دډولۍ دننه حا ل چاته نه وي معلوم، دډولۍ خاوند په راز راز تصوراتوکښې ورک وي. او نه پوهيږي چې بيګاته به څه راز بشره ويني؟

دغه مجهوله ليلی او نا معلوم حقيقت په بنايسته حجابونوکښې پټ وي او ټوله ساحري يې په همدغه پټوالي کښې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه حا ل کښې چې د واده خاوند لا د حسن او جما ل له مخه پوړنې نه و اختسی اویوازې د مینې او محبت په کیف مست و خپل ځان یې دسعادت اونیکمرغۍ رڼا ته ډېر نږدې ګاڼه مګرپه حقیقت کښې همدغه شیبه دی دسعادت په غیږ کښې و او د خوشحالۍ پلوشو یې شاو وخوا رڼا کړې وه.

ددنیا هر راز نیکبختي اوهرډول خوشحالي دانسان په احساس اوتصورکښې ځای لري، همدغه احساس دی چې دغم شپې او خوشحالي ورځې یوله بله بیلوي.

همدغه سبب دی چې یوشی یوسړی خوشحالوي او بل خپه کوي دیوه لپاره غم د بل ښادي شي.

موږ په دغه ګمان چې د خپل یوه ملګري کورته دخوشحالۍ ډولۍ وړو ټول خوشحاله و، چا به نښې ویشتلې، ځینو اتڼونه کو ل، ځینو ټوکې او مسخرې کولې او په همدغه شان وضعیت ماښام تیاره کلي ته ورسیدلو او ډولۍ دکاله په مخکې ښکته شوه.

ښځې راغلې او د ډولۍ پردې یې جګې کړې مګر بې له دینه چې یوه ښایسته مړه ناوې ووینې نور څه په کښې نه و.

دغې ښکلې پیغلې دانه غوښتل چې په دغه کاله ننوزي او خپل ګران ملګری په بل چا بدل کړي.

دغه اجباري واده دا مجبوره کړه چې په زهرو ځان ووژني اوله ډولۍ نه جنازه جوړه کړي. د دې حا ل له لیدو سره سم دژړا اوازونه پورته شوه او دهر چاپه احساس کښې بدلون راغی، همدغه وخت موږ و پوهیدو چې موږ له یوې جنازې سره خپل تصوراو ګمان خوشحاله او په خندا روان کړي وو.

زموږ ګمان دومره قوي تاثیر درلود چې مړی یې راباندې په ډول او سرنې کورته ووړ.

زما یوه ملګری وویل: په ربښتیا چې خوشحالي څوک په زور او اقتدار یا په ډیرو پیسو کو رته نشي راوړلی بلکې د زړو نو موافقت غواړي.

یو بل ملګری (چې ددې واقعې له عکس سره مخامخ شوی و) هغه وویل:

هرکله چې ګمان دومره مؤثردی څومره به ښه وی چې دا قوت شامدام پاک وساتو اوپه ښه لاره کښې یې صرف کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آرزو

هلته لرې دغره په لمن کښې د لمر پلوشو ته  څه وځلیدل لکه چې په اسمان کښې ستوري او په زړونو کښې دارزوښکلې مخ ځلیږي.

زه نه پوهیږم چې دا دسترګو لپاره ځلیدونکې شی  څه شی دی؟

دکومې مستې پیغلې  دلاس ائینه ده، که دکومې معشوقې دغاړې امیل نه کومه قیمت بها مر غلره لویدلې ده؟

د هغې تجلی پلوشه ده چې په کوه طور کښې یې ځان ښکاره کړی که له کوم کان اومعدن نه کوم ښکلی غمی راوتلی دی؟

دغه شان ډیرفکرونه او ګمانونه پیداشو ل او زه یې په هغه لورې روان کړم زه نه پوهیدم چې په څه شي پسې ځم او څه به په لاس راشي؟

زما تصوراتو او خیالاتو دغه مجهو ل شی زما په نظرکښې ډیرښایسته کړی و، زه خپل مطلوب ته په ډیر لوړ قیمت قایل وم.

ماله ځانه سره ویل چې په غرونوکښې هرڅه موندل کیږي او په دنیاکښې ځینې داسې غرونه هم شته چې دخدای استازو په کښې رازو نیاز درلود او د خدایي فکر ونو ځانګوپه کښې ځنګیدلې ده، دلمر اوسپوږمۍ لمرۍ پلوشي په دوئ لویږي اود خدای د رحمت وریځې  مدام د دوئ په سرګرزي.

دغه راز ډیر خیالونه او تصورات راسره ملګري و چې زه هلته ورغلم او خپل مقصدته ورسیدم.  هغه شی په حقیقت کښې هیڅ شی نه و او د دنیا په بازار کښې یې هیڅ قیمت نه درلوده، زه پوه شوم چې دنیا مونږ هروخت په همدغسې شیانو غولولې یو او ډیر خوشې شیان یې راته له ورا ځلولي دي.

له مونږ سره  هروخت لوړفکرونه اوستر خیالات ملګري وي، مګر عملاً په دغسې ناوړه او خوشې شیانو پسې روان یو.

هغه څه چې مونږ له لرې وینو اونه یو ور رسیدلي مونږ ته  ډیر ښایسته ښکاره کیږي او په لوړ قیمت ورته قایلیږو  مګرپس له رسیدلو پوهیږو چې مونږ په هسې او خوشې شیانو پسې  هځه کوو  او  په داسې شي پسې ځو چې هیڅ نه په کاریږي

هماغه لیلی چې خلک یې په دیدن پسې ړندیږي ځینې نور چې ور رسیدلې دي هغوئ یې اوس له کټه غورځوي او هیڅ قدریې ورسره نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ليلیٰ دانسان هماغه ارزو ده چې مخکې له رسيدلو يو رازوي او وروسته تر رسيدلوبل راز كيږي او دزړونو له كوره ايستل كيږي.

**((پای))**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library